هفته واره رساله

# د ''تفسیر نورُ العِرفان''

## نه 72 مدني ګلونه (قسط: 2)

(پښتو)

- د زړه د سختۍ سببونه والې
- د تولو نه وروستي مؤمن
- د ولايت څلور درجې
- نبي سره د دښمنۍ نقصان

ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د ”تفسیر نُور العِرفان“ نه 72 مَدَني ګلونه (قسط: 2)

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ” د ” تفسیر نُور العِرفان“ نه **72** مَدَني ګلونه (قسط: **2**) “ ولولي یا واوري هغهٔ د قرآنِ کریم په برکتونو مالا مال کړې او هغهٔ ته د مور، پلار او د اولاد سره په جنَّت الفردوس کښې د خپل خوږ اخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کړې- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د سلام وئیلو جواب

د اخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”مَا مِنْ اَحَدٍ یُّسَلِّمُ عَلَیَّ اِلَّا رَدَّ اللّٰهُ عَلَیَّ رُوْحِیْ حَتّٰی اَرُدَّ عَلَیْهِ السَّلَامَ“ یعني کله چې هم یو کس په باندې سلام رالیږي نو الله پاک زما رُوح واپس راګرځوي تر دې پورې چې زهٔ د هغې جواب ورکړم-

(ابو داؤد، 315/2، حدیث: 2041)

## د حدیثِ پاک شرح

حضرت مفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: دلته د رُوح نه مُراد توجه ده نهٔ هغه ساه په کوم باندې چې ژوند قائم دے- حضور (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خو بحیاتِ دائمي (یعني د همیشه ژوند سره) ژوندے دے- د دې حدیث دا مطلب نهٔ دے چې په ما کښې خو هسې ساه نهٔ وي خو د چا د دُرُود لوستلو سره راژوندے شم او جواب ورکووم، ګني هر وخت په حضور (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې په لکونو دُرُودونه لوستلے کیږي نو لازم کیږي به چې هر وخت په لکونو کرته د هغوئي رُوح ووځي او داخلیږي-

(مرأة المناجیح، 101/2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د مدینے نه ګجرات ته د تللو حُکم

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه 7 کَرَته د حرمین شریفین د زیارت شرف حاصل کړو- یو ځل د حج کولو نه پس تر ډیرې مودې پورې د هغوئي په مدینه منوره کښې په ښکلو او د نُور نه په ډکو فضاګانو کښې د خپل ژوند ښکلې ورځې تیرولې، په زړهٔ کښې یې خواهش راغلو چې کاش! داسې څهٔ صورت پیدا شي چې د همیشه د پاره په دې پاکه زمکه باندې اوسیدل نصیب شي- د مسجدِ نبوي شریف په خوا کښې د اوسیدونکي یو صاحب په خوب کښې د حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو او دا حکم میلاؤ شو: " **احمد یار خان ته ووایه چې هغهٔ ګجرات ته لاړ شي او په تفسیر کار وکړي-**" احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته چې کله دا پیغام راورسیدو نو احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ډیر خوشحاله شو او اوئې فرمائیل: د بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا حکم میلاؤ شوے دے چې ګجرات ته لاړ شه! نو اوس هم ګجرات زما د پاره مدینه ده- (حیاتِ سالک، ص127 ملخصاً)

مدینے کا کچھ کام کرنا ہے سَیِّد
مدینے سے میں اس لئے جا رہا ہوں

# عاشقِ صادِق مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

د حکیم الاُمَّت، رښتوني عاشقِ رسول، عالِمِ باعمل، صوفيِ باصفا، مفسرِ قرآن حضرت مفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مبارک نوم به کوم یو عاشقِ رسول نه پیژني؟ الله پاک په ټوله دُنیا کښې مفتي صاحب ته او د هغوئي کتابونو او تفسیرونو ته مقبولیت عطا کړے دے او مقبولیت به ولې نه وي! چې د تفسیر لیکلو حکم خو هغوئي ته د بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه وشو- د مفتي صاحب دوه مشهور تفسیرونه دي: ﴿1﴾ تفسیرِ نُور العرفان او ﴿2﴾ تفسیرِ نعیمي (دا تفیسر مفتي صاحب مکمل کړے نه دے، د یولسو سیپارو پورې د تفسیر لیکلو نه پس مفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وفات شو-)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د خپل وخت ډیر لوئي عالِمِ دِین او محدث وو- د هغوئي لیکل او کتابونه چې ولولې نو داسې ښکاري لکه چې د هرې یوې کرښې نه د عشقِ رسول چینې بهیږي- که د قرآن تفسیر وي او که د حدیث شرح، مفتي صاحب د شانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیانولو یوه موقع هم نه پریږدي- د عقلي دلیلونو نه متاثره کیدونکو ته عقلي او عامو مسلمانانو ته د قرآن او د حدیث نه مثالونه ورکوي چې که د تنقید نظر نه لري نو بنده ورته حیران شي- دا رساله د مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د مشهور تفسیر ”نُورُ العِرفان“ په ښکلو نکتو مشتمله ده- الله پاک دې د مفتي صاحب په مزار باندې انوار نازل کړي او مونږ دې د هغوئي د فیضان نه مالا مال کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ”سُوۡرَةُالۡاَنۡعَام“ نه حاصلیدونکې 22 ښکلې خبرې

﴿1﴾ اسمانونه هم اووه دي او زمکې هم اووه دي، خو اسمانونه د یو بل نه په فاصله باندې دي او د زمکې طبقې د یوې بلې سره جُختې دي لکه د پیاز پوستکې- د هر اسمان حقیقت مختلف دے بعضې د اوسپنې، بعضې د سپینو زرو، بعضې د سرو زرو دي خو د هرې زمکې حقیقت صرف خاوره ده- ځکه په قرآنِ کریم کښې په هر ځائے کښې اسمان ته جمع او زمکې ته واحد فرمائیلے کیږي- ځکه په قرآني آیتونو کښې تعارُض (یعني ټکراؤ) نشته- یاد ساتئ چې د اسمانونو پیدائش په دوو ورځو کښې، د زمکې پیدائش په دوو ورځو کښې او د ساه لرونکو، وَنو وغیره پیدائش په دوو ورځو کښې وشو، د ورځې نه مُراد دومره وخت دے ګنې په هُغه وخت کښې ورځ نهٔ وه، ورځ خو د نمر نه وي او هُغه وخت نمر نهٔ وو- (تفسیر نور العرفان، ص 154 267 ملتقطاً)

﴿2﴾ په کافِر باندې به د هغهٔ بد اعمال سوارهٔ وي او مؤمِن به په خپلو بعضو نیک اعمالو باندې سور وي، قرباني به سورلي جوړیږي- د کافر نیکۍ به سپکې او ګناهونه به درانهٔ وي- د مؤمِن نیکۍ به وزن دارې او ګناهونه به سپک وي- چې مِعده خرابه وي

نو خوراک بوج جوړ شي او په مونږ باندې سوارۀ شي- چې مِعده ښه وي نو خوراک سپک شي او ښځپله سورلۍ جوړه شي- (تفسیر نور العرفان، ص 158)

## د زړۀ د سختۍ نُحُوست(سپیرۀ والے)

﴿3﴾ په ټولو عذابونو کښې سخت ترین عذاب د زړۀ سختي ده، په کوم باندې چې د نبي تعلیم اثر نۀ کوي- د دې نه معلومه شوه چې د ګناه او د مَعاصئ باوجود د دُنیا راحتونه میلاؤیدل د الله غضب او عذاب دے د کوم سره چې انسان نور زیات غافله کیږي او په ګناه باندې زړور کیږي بلکې کله خیال کوي چې ګناه ښه څیز دے ګنې نو ما ته به دا نعمتونه نۀ میلاؤیدل، دا " کُفر" دے- دا هم معلومه شوه چې په نیک بنده باندې تکلیفونه راتلل د الله پاک د رحمت ذریعه ده چې د دې سره د هغه صالح بر صالح (یعني نیک بنده) درجې اوچتیږي- (تفسیر نور العرفان، ص 160)

## د مؤمِن او د کافر د مرګ درې نمونه

﴿4﴾ د مومِن د مرګ درې نمونه دي- ﴿1﴾ وفات (یعني د خپل کار د پوره کولو وخت) نه ورستو د ارام او د انعام وخت ﴿2﴾ وِصال یعني د یار سره د میلاؤیدو ذریعه ﴿3﴾ شهادت یعني د رَبّ په بارګاه کښې د حاضرئ ذریعه- د کافر د مرګ هم درې نمونه دي: ﴿1﴾ تَدمِیر ( یعني تباهي) دَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِیْرًا ﴿2﴾ هلاکت اَهْلَکْنٰهُمْ او ﴿3﴾ اَخْذُ اَخَذْنٰهُمْ- داسې د مؤمِن د ژوند نوم حیاتِ طیّبه (یعني پاک ژوند) دے، د کافر د ژوند نوم مَعِیْشَةً ضَنْکًا (تنګ ژوند) دے- (تفسیر نور العرفان، ص 160)

﴿5﴾ د صالحانو [نیکانو خلقو] د پاره زیرے دے چې هغوئې به د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د دروازے نه نۀ شړلے کیږي، نۀ په دُنیا کښې او نۀ په اخرت کښې، ځکه چې څوک د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) قُرب غواړي نو هغۀ دې رَبّ یادوي- دا حکم تر قیامته پورې جاري دے- (تفسیر نور العرفان، ص 161)

﴿6﴾ هر يو ادنیٰ او اعلیٰ څيز يې په لَوحِ محفوظ کښې ليکلے دے او دا ليکل دې د پاره نۀ دي چې د الله پاک سره د خپلو هيريدو ويره وه څکه يې وليکل بلکې خپلو خاص مقرب بندګانو ته د ښودلو د پاره دي د چا نظر چې په لَوحِ محفوظ باندې دے- (تفسير نور العرفان، ص162)

﴿7﴾ د پيغمبر په زړۀ کښې د مخلوق داسې هيبت نۀ راځي کوم چې هغوئي د فرائضو د ادا کولو نه منع کړي- (تفسير نور العرفان، ص166)

﴿8﴾ د دُنيا قيام او زمونږه دلته اوسيدل عارضي (Temporary) دي، اصلي ځائے اخرت دے- څکه دُنيا ته دارُ الفرار (يعني د تښتيدو ځائے) او اخرت ته دارُ القَرَار (يعني د مستقل پاتې کيدو ځائے) وئيلے شي- (تفسير نور العرفان، ص169)

﴿9﴾ صوفيائے کرام (رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم) فرمائي: لکه څنګه چې دانه د اوبو د مدد نه بغير نشي زرغونيدے هم داسې زمونږه اعمال بغير د څۀ عنايت د نظر نه د الله پاک په بارګاه کښې نشي قبليدے- د شيطان سره د اعمالو تُخم (دانه) ډيره وه خو هغې ته د نبوت اوبه ميلاؤ نۀ شوې څکه يې د قبوليت ميوه ونکړه- (تفسير نور العرفان، ص169)

﴿10﴾ واعِظ او عالِم دې په هُغه طريقه باندې وَعظ [يعني نصيحت] نۀ کوي په کومه چې په خلقو کښې ضِد پيدا شي او فساد او وهلو ډبولو ته خبره ورسي - که د چا په باره کښې دا پوره ګمان وي چې هغۀ ته نصيحت کول به د نورې خرابۍ سبب جوړ شي نو (نصيحت دې ورته ) نۀ کوي- (تفسير نور العرفان، ص758)

﴿11﴾ تبليغ او معجزې وغيره مستقل هادي (راهنما) نۀ دي- هدايت د رَبّ په کرم سره ميلاؤيږي- دا څيزونه د هدايت سبب (دي) د مرض د ختمولو د پاره دوائي [يعني عِلاج] ضرور پکار دے خو باور په رَبّ ساتل پکار دي- (تفسير نور العرفان، ص171)

﴿12﴾ د پيريانو او انسانانو نه علاوه د الله پاک ټول مخلوق د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مُطيع او فرمانبردار،او د رَبّ عبادت ګزار دي، څوک پکښې کافِر نشته او څوک پکښې د نبي دښمن نشته - (تفسير نور العرفان، ص171)

﴿13﴾ بغير د عِلم نه پۀ دِيني مسئلو کښې جګړې کول يا صرف د جګړې پۀ نيت باندې مناظره کول د شيطان يا شيطاني خلقو کار دے- (تفسير نور العرفان، ص 172)

﴿14﴾ ګنهګار مؤمِن خپله ګناه ښه نۀ ګڼي ځکه مؤمِن پاتې کيږي خو کافِر خپلې بدکارۍ ښې ګڼي، پۀ هغې باندې ناز کوي ځکه هغۀ د مغفرت لائق نۀ دے-
(تفسير نور العرفان، ص 759)

# د سينې د تنګيدو علامت

﴿15﴾ د دِين کار ګران معلوميدل او د دُنيا کار اسان محسوسيدل، د سينې د تنګۍ علامت دے او د سينې تنګي دا ده چې د کُفر اسباب راجمع شي او د اِسلام اسباب ورنکړے شي- الله پاک مو دې ترينه وساتي- ياد ساتئ چې د دې نه دا نۀ لازميږي چې بنده پۀ کُفر کولو باندې مجبور دے بلکې هغۀ چې کوم کُفر او طُغيان (سرکشي) کوي هغۀ پۀ خپل اختيار سره کوي- د هغۀ د بد کارو نه پۀ زړۀ کښې دا حال پيدا کيږي- لکه څنګه چې اوسپنه زنګ ونيسي او بے کاره شي- (تفسير نور العرفان، ص 173)

﴿16﴾ پۀ جنَّت کښې به هر قِسمه سلامتي وي- د مرض، مرګ، د چا د مخالفت هيڅ قِسمه خطره به نۀ وي ځکه دې ته " دارُ السَّلام" (يعني د سلامتيا کور) وئيلے شي-
(تفسير نور العرفان، ص 759)

﴿17﴾ که ښه حکمران غواړئ نو ښه اعمال کوئ- (تفسير نور العرفان، ص 174)

﴿18﴾ پۀ قيامت کښې حساب کتاب، سوال او جواب د الله پاک د بے عِلمۍ پۀ وجه نۀ دي بلکې دې د پاره دي چې لکه څنګه چې پۀ دُنيا کښې پۀ ناخبرو باندې عذاب نشته هم داسې پۀ اخرت کښې هم بلکې مجرمان به قائل کولے شي او عذاب به ورکولے شي- (تفسير نور العرفان، ص 174)

﴿19﴾ پۀ ظاهره باندې نيک اوسيدل، پۀ پټه باندې ګناه کول، تقوىٰ نۀ ده بلکې ريا ده- تقوىٰ دا ده چې پۀ هر حال کښې د رَبّ نه ويريږي- ريا کوونکے د ښکاره فاسق نه ډير خطرناک دے- مُحاوره:

تَن اُجلا مَن سانولا بگلے کا سا بھیک، تُو سے تو کاگا بھلا جو اندر باہر ایک[1]

(يعني ريا کوونکے، د ډينګ په شان وي هغه ظاهري خوصفا سوترا او سپين ښکاري خو هر وخت د ښکار د پاره تيار اوسي- د ريا کوونکي نه خو کارغه ښه دے هغه چې څنګه تور ښکاري هُم هغسې په نظر راځي-) الله پاک دې زمونږه صحيح تقویٰ نصيب کړي، آمين- (تفسير نور العرفان، ص 178 760)

﴿20﴾ صُوفيائے کِرام (رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم) فرمائي چې د معاملو خرابي د عبادتونو خرابۍ پورې رسول کوي او د عبادتونو خرابي کله کله د عقيدو د خرابۍ ذريعه جوړيږي- د مستحب پريښودل د سُنَّتو پريښودل او د سُنَّتو پريښودل د فرضو د پريښودلو ذريعه ده، غَل هُم په وړومبۍ دروازه باندې ودرويږ- (تفسير نور العرفان، ص 179)

﴿21﴾ د الله د پاره ژوند هُغه دے کوم چې د رَبّ د کارونو د پاره وقف وي- چې ژوندے وي نو د دِين په خدمت او د رَبّ په ياد کښې، چې مړ کيږي نو د رَبّ په اطاعت کولو کښې- (تفسير نور العرفان، ص 760)

﴿22﴾ په ټول مخلوق کښې د ټولو نه وړومبے مؤمِن حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے- د حضرت جبريل او ميکائيل (عَلَيۡهِمَا السَّلَام) نه هم مخکښې هغوئي عابد بلکې نبي وو- (تفسير نور العرفان، ص 760)

# د "سُورَةُ الاَعراف" نه حاصليدونکي 21 ښکلي خبرې

﴿1﴾ د شپې اخرۍ حصه د ذاکرينو (يعني د الله پاک د ذِکر کوونکو) د پاره د رحمت د نازليدو وخت دے او د غافلانو د پاره د عذاب د نازليدو- ځکه دغه وخت د تهجدو نـمونځ بهتر دے چې د الله پاک د غضب وور يخ شي- (تفسير نور العرفان، ص 181)

---

[1] ... دا محاوره ده، په تفسيرِ نور العرفان کښې دا د شعر په طور ليکلے شوې ده، په الفاظو کښې څهٔ بدلون شته، په لغت وغيره کښې د کتلو سره دا صحيح کړے شوې ده-

# د الله پاک عشق او د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبّت

﴿2﴾ د الله پاک عشق او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت به نۀ تَلَلے کیږي چې دا عمل نۀ بلکې د زړۀ کیفیت دے- هم داسې به د حضور (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اعمال نۀ تَلَلے کیږي ځکه چې هیڅ یوه تَله د حضور (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اعمال نشي تللے- لکه څنګه چې د دُنیا تَله د سمندر اوبه او هواګانې نشي تَلَلے- د حضور (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په نوم کښې به دومره وزن وي چې زما په شان د لکونو ګنهګارانو د ګناهونو دفتر (اعمال نامه به) اِنْ شَآءَ الله د دې په مقابله کښې سپکه شي-

(تفسیر نور العرفان، ص 182)

﴿3﴾ د تولو نه وړومبے تَقِیَّه شیطان وکړه (یعني دروغ یې ووئیل) چې په زړۀ کښې یې د آدم عَلَیْهِ السَّلَام دښمني وساتله او په ژبه باندې یې دوستي ظاهره کړه-

(تفسیر نور العرفان، ص 183)

﴿4﴾ د خطا د ځان طرف ته نسبت کول پکار دي او د نیک کار د رَبّ طرف ته- دا سُنَّتِ نبوي دے- شیطان د خپلې ګمراهۍ نسبت د رَبّ طرف ته وکړو چې اوئې وئیل "بِمَآ اَغْوَیْتَنِیْ" تا زۀ ګمراه کړم- هغۀ مَردُود شو- (تفسیر نور العرفان، ص 761)

﴿5﴾ شیطان په ظاهره د کافِرانو دوست دے او کافِران په زړۀ کښې د شیطان دوستان دي ګني شیطان په حقیقت کښې د کافرانو هم دوست نۀ دے هغۀ خو د هر انسان دښمن دے- (تفسیر نور العرفان، ص 184)

# په اتفاق کښې برکت دے

﴿6﴾ د دوزخ په عذابونو کښې یو عذاب هلته په خپل مینځ کښې بے اتفاقي هم ده لکه څنګه چې د جنَّت په ثوابونو کښې یو ثواب د هُغه ځائے اتفاق او محبت دے- په دُنیا کښې چې د کوم مؤمِن په کور کښې صُلح ده هغه جنَّتي کور دے-

(تفسیر نور العرفان، ص 186)

﴿7﴾ د جاهلانو په بد تميزۍ باندې د تحمل (يعني برداشت) نه کار اخستل د انبيائے کرامو (عَلَيهِمُ السَّلام) سُنَّت دي- (تفسير نور العرفان، ص 191)

﴿8﴾ په دُنيا کښې مصيبت او ارام امتحان دے، په مصيبت کښې صابر (صبر کولو والا)، په ارام کښې شاكِر (شُكر ادا کولو والا) اوسيدل پكار دي-
(تفسير نور العرفان، ص 196)

﴿9﴾ په مصيبت کښې د رَبّ طرف ته رجوع نۀ کول، دا اتفاقي منل د غافل قوم علامت دے- صحابۀ کرامو (عَلَيهِمُ الرِّضوَان) به په هره بيمارۍ کښې سوچ کولو چې دا تکليف په څۀ وجه راغلے دے او په هر نعمت باندې به يې ويره محسوسوله چې هسې نۀ دا نعمت د رَبّ عذاب نۀ وي- د بيدار زړۀ دغه علامت وي- الله دې يې رانصيب کړي- (تفسير نور العرفان، ص 196)

﴿10﴾ د الله پاک عذاب اکثر د غفلت په وخت راځي او غفلت زياتره د شپې په اخرۍ حصه کښې يا د ماسپښين په وخت کښې وي- (تفسير نور العرفان، ص 196)

﴿11﴾ د كامِل مؤمِن پيژندګلو دا ده چې كافران د هغۀ نه خوشحاله نۀ وي، د كافرانو نۀ خوشحاليدل د ايمان د طاقت دليل دے- د چا نه چې كافران هم خوشحاله وي او مسلمان هم هغۀ منافق دے- (تفسير نور العرفان، ص 199)

﴿12﴾ غرور هغه وور دے کوم چې د زړۀ ټول قابليتونه سيزي او بربادوي يې، خاص طور چې د الله د مقبولو [بندګانو] په مقابله کښې تکبر وي-
(تفسير نور العرفان، ص 202)

﴿13﴾ الله پاک د اُمَّتِ محمديه نيک اعمال خو مخکښينو اُمَّتونو ته بيان کړل خو د دوئ بد عملۍ يې ظاهرې نۀ کړې ځکه چې دا اُمَّت اګر که ګنهګار دے خو د محبوب اُمَّت دے- (تفسير نور العرفان، ص 764)

﴿14﴾ د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تعظيم قولاً عملاً هر قِسمه لازمي دے بلکې د ايمان رُکن دے او کوم تعظيم چې حرام نۀ وي، هغه دې وکړے شي، د ثبوت ضرورت نشته، سجده مۀ کوئ، باقي هر قِسمه تعظيم کوئ- (تفسير نور العرفان، ص 205)

﴿15﴾ د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د اتباع معنیٰ ده: بغير د سوچ او پوهيدو نه د هغوئي اطاعت کول، خپل ځان د هغوئي پۀ لاس کښې داسې ورکول لکه ځنګه چې مړے د غسل ورکوونکي پۀ لاس کښې وي- (تفسير نور العرفان، ص 205)

﴿16﴾ د ګناهونو پۀ نُحُوست سره د الله نعمتونه اخستے کيږي- (تفسير نور العرفان، ص 765)

﴿17﴾ پۀ مقدس ښار کښې اوسيدل هم د الله يو نعمت دے- د مدينے والا خوش قِسمته دي چې د محبوب پۀ ديدار کښې وي- (تفسير نور العرفان، ص 765)

﴿18﴾ کومه ژبه چې د الله پاک حمد او د پيغمبر نعت نۀ وائي، هغه ګونګۍ ده- کوم غوږونه چې د الله کلام نۀ اوري، هغه کاڼه دي- کومې سترګے چې د هغۀ دليلونه اونه ويني هغه ړندې دي ځکه چې د خپل پيدائش مقصد نۀ ادا کوي- (تفسير نور العرفان، ص 209)

﴿19﴾ پۀ پيريانو او انسانانو کښې پۀ هدايت باندې کم دي او ګمراهان زيات دي- (تفسير نور العرفان، ص 209)

﴿20﴾ انسان که ټيک شي نو د فرښتو نه به ښه شي او که اُلټا روان شي نو د ځناورو نه به هم بدتر شي ولې چې ځناور خو خپل ښه بد پيژني، دا يې نۀ پيژني- سپے خيز بوئي کوي بياخُله اچوي خو دا انسان بغير د تحقيق نه حرام او حلال هر څۀ خوري- (تفسير نور العرفان، ص 209)

﴿21﴾ لکه ځنګه چې نمونځ او روژه وغيره عبادتونه ادا کول پکار دي هم داسې د عالَم (يعني دُنيا) پۀ څيزونو کښې غور او فِکر هم کول پکار دي چې د دې سره معرفتِ اِلٰهی (يعني د الله پاک پيژندګلو) نصيب کيږي- (تفسير نور العرفان، ص 209)

## د ” سُورَةُ الْاَنفال “ نه حاصليدونکي 6 ښکلي خبرې

﴿1﴾ قرآن پۀ خُضُوع او خُشُوع (يعني پۀ عاجزۍ او انکسارۍ) او پۀ حضورِ قلبي (يعني ښه پۀ توجه) سره لوستل پکار دي- د مؤمِن پۀ دې جهان کښې د رَبّ نه ويريدل د آئينده د پاره د بے ويرې کيدلو ذريعه ده- (تفسير نور العرفان، ص 213)

﴿2﴾ د الله پۀ فضل سره د مؤمِن پۀ زړۀ کښې د کافرانو نه ويره نۀ راځي بلکې پۀ

کافرانو باندې د مؤمِن هیبت وي- ایمان د مؤمِن د ټولو نه غټه وسله ده-
(تفسیر نور العرفان، ص 767)

﴿3﴾ الله پاک مؤمِن له داسې فِراست [پوهه] ورکوي چې هغهٔ مُخلِص او منافق پیژني، بیا څنګه کیدے شي چې حضور (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) منافقان نهٔ پیژني! هم داسې مؤمِن د ایمان پهٔ نُور پهٔ حق او پهٔ باطل کښې فرق کوي- د مؤمِن زړهٔ قدرتي طور د باطل نه نفرت کوي او پهٔ حق باندې راغب وي- (تفسیر نور العرفان، ص 217)

## د ریا او د اِخلاص بیان

﴿4﴾ د تقویٰ څلور درجې دي، دې وجه نه د ولایت هم څلور درجې دي: (1) د کُفر نه بچ کیدل، (2) د ګناهونو نه بچ کیدل، (3) د شکمنو خیزونو او د شُبهاتو نه بچ کیدل، (4) د غیرُ الله نه بچ کیدل- غیرُ الله هُغه کوم چې د رَبّ نه غافله کول کوي- که نـمونځ او نور عبادتونه د رِیا (یعني خلقو ته د ښودلو) د پاره وي نو هغه غیرُ الله دي او که خوراک د رَبّ د پاره وي نو هغه غیر نهٔ دے- (تفسیر نور العرفان، ص 768)

﴿5﴾ پړقې،شپیلي وهل د کافرانو طریقه ده- (تفسیر نور العرفان، ص 218)

﴿6﴾ الله پاک خو د ټولو اوري خو د ټولو نهٔ مني، مني د هغوئې خوک چې د رَبّ مني- (تفسیر نور العرفان، ص 768)

## د " سُورَةُالتَّوبَة " نه حاصلیدونکي 23 ښکلي خبرې

﴿1﴾ د جومات د ابادولو شوق د ایمان علامت دے- دغه شان د جوماتونو نه نفرت یا د جوماتونو د بربادولو جذبه د کُفر علامت دے- (تفسیر نور العرفان، ص 228)

## پهٔ جوماتونو کښې د لائټنګ کولو رواج ډیر پخوانے دے

﴿2﴾ پهٔ تراویح کښې د ختم پهٔ وخت جومات پهٔ لائټونو ښکلے کول ډیر د ثواب کار دے ځکه چې دا هم پهٔ جومات ابادولو کښې داخل دي- پهٔ مسجدِ نبوي کښې د ټولو نه وړومبے اعلیٰ فرش حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ جوړ کړو، د دې نه مخکښې صرف

باجري وه- د دهٔ عالي شانه وداني د ټولو نه وړومبے حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ جوړه کړه- پهٔ دې کښې د ټولو نه وړومبے قندیلونه [یعني ډیوې] تَمیم داري (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) بَلې کړې- د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ وخت کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک د تراویح پهٔ موقع باندې هغوئي جومات ښکلے کړو او حضرت علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) عمر فاروق (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) ته د نُورِ قبر دعا وکړه (چې الله پاک دې د هغوئي قبر روښانه کړي)- (صحابئِ رسول) حضرت دِحیَه کَلبي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) به مسجدِ نبوي ښکلے کولو- حضرت سلیمان (عَلَیۡہِ السَّلَام) به بیتُ المُقَدَّس داسې ښکلے کولو چې پهٔ میلونو لرې پورې به د هغې پهٔ رڼا کښې زنانهٔ خپل کارونه کول- حضرت سلیمان عَلَیۡہِ السَّلَام پهٔ بیت الـمقدس کښې د کِبریتِ اَحمر (د سور ګندهک) رڼا وکړه د کومې رڼا چې به دولس مُربع میل وه او هغه یـې پهٔ سرو او سپینو زرو ښائسته کړو- دا ټول حضرات د الله پاک خوښ وو- (تفسیر نور العرفان، ص 228)

﴿3﴾ د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) کارونه د رَبّ کارونه دي ځکه چې مسلمانانو ته زیرے ورکول د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) کار دے ځکه د هغوئي نوم "بشیر" (یعني زیرے ورکوونکے) دے- (تفسیر نور العرفان، ص 770)

﴿4﴾ پهٔ قیامت کښې بخښنه او د جنَّت نعمتونه صرف د خپلو اعمالو نتیجه نهٔ بلکې د الله پاک د فضل نتیجه ده، نیک اعمال خو د هغهٔ د فضل د حاصلولو ذریعه ده- (تفسیر نور العرفان، ص 770)

﴿5﴾ د الله رضا د ټولو نعمتونو نه اعلیٰ نعمت دے- الله دې [زمونږه] نصیب کړي- (تفسیر نور العرفان، ص 770)

## شانِ صِدِّیقي

﴿6﴾ د (حضرت) ابو بکر صِدِّیق (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) صحابیت قطعي ایمانِ قرآني دے ځکه د دې نه انکار کُفر دے- د صِدِّیقِ اکبر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) درجه د حضور

(صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه پس (په صحابهٔ کرامو کښې) د ټولو نه لوئي ده چې هغوئي ته رَبّ د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ثاني وفرمائیلو- څکه حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هغوئي په خپله مُصلّه امام جوړ کړو- د حضور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه پس خلافت د صِدّیقِ [رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ] د پاره دے- الله پاک هغوئي دویم جوړ کړو بیا هغوئي دریم یا څلورم کولو والا څوک دے؟ هغوئي خو په قبر کښې هم دویم دے، په حشر کښې به هم دویم وي- (تفسیر نور العرفان، ص 771)

﴿7﴾ منافق نیکي هم په خراب نیت کوي- (تفسیر نور العرفان، ص 234)

## د اخرت معامله د دنیا د معاملې په اُلټا ده

﴿8﴾ د الله پاک په لاره کښې د تکلیف نه بچ کیدل نقصان دے او تکلیف برداشت کول فائده ده، څوک چې د الله پاک په لاره کښې زیات خرچ کړي هغهٔ په فائده کښې دے او څوک چې کم خرچ کړي هغهٔ په نقصان کښې دے- د هغه ځائے معامله د دې ځائے په اُلټا ده- (تفسیر نور العرفان، ص 771)

## په نـمونځ کښې د سستۍ نه مُراد

﴿9﴾ په سستۍ سره نـمونځ کول د منافقانو طریقه ده- د دې نه د فقهي ډیرې مسئلې (یعني شرعي مسئلې) راویستے کیدے شي- په تنګ وخت کښې نـمونځ کول، بغیر د جَمعې نه د نـمونځ کولو عادت کیدل، سر تور سر نـمونځ کول، د پړانستو ټټو یا د لستوڼو پورته کولو سره نـمونځ کول مکروه دے چې دا د سستۍ علامتونه دي- (تفسیر نور العرفان، ص235)

﴿10﴾ کوم مال او اولاد چې سړے د رَبّ نه غافله کړي هغه د رَبّ عذاب دے- الله مو دې د دې نه بچ کړي- (تفسیر نور العرفان، ص 235)

## د مؤمِن او د کافِر مرګ

﴿11﴾ د مالداره ساه په ډیر مصیبت سره ووځي او هغهٔ ته غبرګ (یعني دوه چنده) تکلیف وي، د دُنیا نه د تللو او د مال د پریښودلو- د مؤمِن ساه په اسانۍ سره ووځي

ځکه چې هغۀ هغه د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) سره د میلاؤیدو ذریعه ګڼي- ځکه د هغۀ د مرګ ورځ ته عُرس وئیلے شي یعنې د واده او د واده د ځلمي سره د ملاقات ورځ- مرګ یو ریل ګاډے دے کوم چې مجرم پۀ دار د خیژولو ځائے ته او د واده ځلمے د ډولۍ (جنج) ځائے ته رسوي- د مؤمِن د پاره مرګ ” د میلاؤیدو ورځ“ دہ، د کافِر د پاره د ” پاتې کیدو ورځ“ دہ- (تفسیر نور العرفان، ص235)

## د جنَّت نعمتونه او د رَبّ رضا

﴿12﴾ د جنَّت پۀ نعمتونو کښې به د ټولو نه لوئې نعمت دا وي چې الله به د جنتیانو نه راضي وي- چرې به هم د هغوئې نه نۀ ناراضه کیږي- د محبوب رضا د عاشق د پاره د ټولو نه لوئې نعمت دے- یاد ساتئ چې د الله رضا او د الله دیدار به د څۀ عمل بدله نۀ وي- دا به د رَبّ خاص عطا وي- پۀ دُنیا کښې د الله پاک د راضي کیدو علامت دا دے چې د هغۀ نه د الله نیک بندګان راضي وي او د هغۀ د نیک اعمالو توفیق نصیب شي- چې کله رَبّ د چا نه راضي شي نو پۀ فرښتو کښې اعلان کیږي چې مونږه د دۀ نه راضي یو تاسو ترینه هم راضي شئ او د ټولې زمکې والؤ پۀ زړونو کښې د هغۀ محبت پریوځي- د بزرګانِ دِین (رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم) طرف ته د زړونو مائل کیدل د هغۀ د الله پاک د محبوب کیدلو علامت دے- (تفسیر نور العرفان، ص239)

﴿13﴾ د الله پاک لۀ راضي کیدل لویه کامیابي دہ- الله پاک دې پۀ خپل کرم سره رانصیب کړي- (تفسیر نور العرفان، ص239)

﴿14﴾ چا ته چې ګناه اسانه ښکاري او نیک کار ګران، پوهه شئ چې د هغۀ پۀ زړۀ کښې نِفاق (یعنې منافقت) دے- الله پاک مو دې ترینه وساتي- (تفسیر نور العرفان، ص772)

## پۀ قبر کښې د برکتي څیزونو کیښودل جائز دي

﴿15﴾ د مړي پۀ کفن کښې یا پۀ قبر کښې متبرک (یعنې د برکت والا) څیزونو کیښودل چې د قبر عذاب دفع (یعنې لرې) شي، جائز بلکې سُنَّت دي- (تفسیر نور العرفان، ص241)

﴿16﴾ صدقه اخستونکے دې ورکوونکي ته د خير دعا کوي- (تفسير نور العرفان، ص244)

﴿17﴾ څوک مسلمان د صحابهٔ کرامو (عَلیهِمُ الرِّضوَان) درجې ته نشي رسيدلے- د هغوئي د نيکو رسيد د عرشِ اعظم نه راغلے دے، زمونږه د يوې نيکئ د قبليدو خبر نشته- (تفسير نور العرفان، ص244)

﴿18﴾ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آستاني ته حاضري کول او توبه کول د زيات قبوليت سبب دے- (تفسير نور العرفان، ص245)

## خوښه صدقه

﴿19﴾ کومه صدقه چې د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په لاس خيرات کړے شي هغه ډيره محبوب (يعني خوښه) ده- صحابهٔ کرامو (عَلیهِمُ الرِّضوَان) به په دې باندې عمل کولو- (تفسير نور العرفان، ص245)

﴿20﴾ د خطا کار بنده د پاره بائيکاټ بهترينه اِصلاح ده- (تفسير نور العرفان، ص775)

﴿21﴾ صوفيائے کرام (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم) فرمائي چې د چا په زړهٔ کښې د نبي سره دښمني وي د هغهٔ د توبې توفيق ډير کم نصيب کيږي، اکثر د هغهٔ خاتمه په کُفر باندې کيږي- الله پاک مو دې محفوظ کړي- (تفسير نور العرفان، ص249)

## فيضانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿22﴾ د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ولادت په مکه کښې او استوګنه په مدينه کښې ده خو تشريف راوړل يې د هر مسلمان په سينه کښې دي، لکه څنګه چې نمر په څلورم اسمان باندې اوسيږي خو ځليږي په ټول جهان کښې لکه څنګه چې د نمر عام فيض يعني رڼا خو په هر ځائے کښې ده خو خاص فيوض يې په خاص ځائے کښې دي نو هغه په پټو کښې داني پخوي، په چمن کښې ګلونه سپړي، په باغونو کښې ميوې

ښخوي، د بَدَخشان [2] پۀ غرونو کښې لعلونه او ياقوت جوړوي، هم داسې د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) عام فيض (يعني تبليغ) هر يو ته ورسيدلو خو ايمان صرف د مؤمِنانو نصيب شو- عرفانِ عام د اولياء الله، د قُطبِيَت او د غَوثِيَّت جام د خاص اولياؤ، صحابيت د مخصوصي ډلي [نصيب شو]- د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د وفات نه د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ولادت يعني ظهو رختم شو، تشريف راوړل يـې ختم نۀ شول- هغوئي د هميشه د پاره راغلل لکه څنګه چې د نمر د پريوتو سره د هغه ظهور ختميږي نۀ چې وجود- (تفسير نور العرفان، ص 775)

﴿23﴾ نور خلق خو د ځان او د خپل اولاد د خير حرص کوونکي وي خو دا رسولِ رحمت [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] د خپل اُمَّت د خير حرص کوونکے دے-

(تفسير نور العرفان، ص 775)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

---

[2] ... د افغانستان يو ولايت (يعني صوبه) د کوم چې لعلونه مشهور دي-

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net